# صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ». "په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته يې وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ يې وکړه

له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما بواسير درلودل، نو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: «صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ». "په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته يې وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ يې وکړه".

[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم څرګنده کړه چې په لمانځه کې اصل ودريدل دي، مګر دا چې ودريدلی نشي نو بيا به په ناسته لمونځ کوي، او که په ناسته يې نشو کولی شي چې په څنګ لمونځ وکړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10951

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee